# د باچاخان ملي مبارزه

پروفېسر ډاکټر فضل الرحيم مروت

> غــــصــــه د عــــدم تــــشــدد دښمنـــه ده
> او د غـرور اژدها يې ژوندۍ له کومي تېروي
>
> ګاندهي جي



مــــلـــي مبـــــــارزه (National struggle) هــــرې ټولنې کښې د مختلفو وجـوهـانـو په بنا مخې تـه راځي. لکه څرنګه چې د هرې ټولنې قامي ستونزې هم بېلې بېلې وي ، داسې يې د مـلـي مبارزې لارې هم بدلې بـدلې وي. خـو په دغه لړ کښې بيـا تـر ټولو ګرانـه مـرحلـه ملي پـاځون او ملي مبارزې ته د اولس تيارول دي. مـلـي مبـارزه کښې مادي اړخ (Factor) ډېـر اهـم کردار لوبوي او په خـصـوصيت سره په داسې وخت يا حالاتو کښې چې د اولـس پـه ځمـکـه او وطـن يـو امپريالستي قوت قبـضـه ټيـنګـه کړې وي او اولـس د غلامۍ ژوند کـوي. مـحـکـوم اولـس ته د دغه غلامۍ احساس کېږي او کــه نــه؟ يــا مـحـکوم اولس کښې د خپـل شـنـاخـت د پـاره بېـداري مـوجوده وي او که نه؟ دا داسې سوالونه دي چې د شلمې پېړۍ د پښتونخوا اولس ورسره مخ وو.

بـرصغير(نيمه وچـه) کښې پـه هم دغه پېړۍ کښې د ازادۍ د تــحـريـکـونـو شـروع وشــــوه. دا ټـــول تـحـريـکـونـه يـا د قـام پرستۍ يا ازادۍ يا ائين پـرستۍ پـه ترڅ کښې رامـخې تـه شوي وو ، البته څۀ پکښې د سياسي يا عـلـمي احيا د پاره هم وو. خو يو مقصد چې په ټولو کښې شـريک وۀ ، هغه د ملک او د خاورې ازادي او

ترقي وه.

کوزه پښتونخوا کښې تعليمي شرح هم په1901 ء کښې صرف پنځۀ نيم فيصده (5.5) وه او په1911 ء کښې دغه شرح پينځۀ اشاريه يو فيصده(5.1) ته راکوزه شوه. د غربت او جهالت دغه پالېسي د سامراجي مفاداتو په چوکاټ کښې خپل ځان ته د ګټو لارې وټاکلې. د برطانوي هند د جاسوسۍ او تخريب کارۍ جال د زور او ټوپک (Gold and Gun) د سيوري لاندې تر مرکزي اسيا پورې خور وو. انګرېزانو 1909 او 1919اصلاحات هم پښتونخوا (دهغه وخت صوبه سرحد يا.N.W.F.P (کښې نافذ نۀ کړل او پښتونخوا نه پوليس سټېټ (Police state) جوړ وو او د اولس نه بنيادي حقونه تروړلي شوي وو - د باچاخان د وينا مطابق:

زمونږ ګناه دا ده چې مونږ د صوبه سرحد (پښتونخوا) اوسېدونکي يو.

کومه چې د هند دروازه ده او د دغې مونږ له سزا راکولې شي.

او د انګرېز انو په فکر:

سرحد (پښتونخوا) د بارودو په مثال وو او دلته لکه د باقي هندوستان اصلاحات راوستل بارودو ته تيلې وهل دي او دغه به يوه دهماکه کول وي.

انګرېز سامراج خپلې Status quo ماتولو ته تيار نۀ وو. ډېر په چل ول يې ځنې خانان، ملکان، ملايان او پيران ترلاسه کړي وو او د دوي په ذريعه يې په پښتون اولس حکومت کولو.

داسې حالاتو کښې باچاخان (عبدالغفارخان) د خپل قام د کمزوري او شاته پاته کېدو مرض مطالعه وکړه او په دا نتيجه ورسېدو چې پښتون يا افغان اولس د تعليم او اصلاح نه بغېر ترقي نۀ شي کولے. باچاخان شروع د خپل کور او کلي نه وکړه د يوې غټې زميندارۍ کورنۍ فرد په حېث د ځان سره خان نه ليکل او ټول عمر يې د ځان سره تش عبدالغفار ليکل چې د غرور د اژدها نه يې تر خپله وسه ځان ساتلے دے. په1912 ء کښې يې اصلاحي کارونو ته لاس واچولو. ورسره يې د تعليم د پاره هم هلې ځلې شروع کړې. خو منظم شکل يې ورته په1921 ء کښې هله ورکړو چې اولنۍ ازاد اسلاميه مدرسه (سکول) يې په اتمانزو کښې جوړه کړه او ورپسې يې د صوبې نورو سيمو ته هم دغه سلسله وغزوله - دغو مدرسو (سکولونو) د جامعه مليه اسلاميه دهلي سره الحاق (Affiliation) لرلو. دې کښې قران شريف، حساب او کسب هم په حېث د مضمونونو شامل وو. د اتمانزو په ازاد اسلاميه مدرسه (سکول) کښې يې اول خپل زوے ولي خان (خان عبدالولي خان) داخل کړو او يوه يې لور هم پکښې داخله کړې وه چې وروستو يې ټولو ملګريو هم خپل زامن هم په دغه مدرسو

(سکولونو) کښې داخل کړل.

اولسي اصلاحي کارونو ته نور منظم شکل هله وکړے شو ، کله چې په1921 ء کښې انجمن اصلاح الافاغنه تشکیل وموندلو. د دغه تنظیم بنیاد د عدم تشدد د فلسفې لاندې کښېښودے شو ځکه چې تشدد امېزه تحریکونه په یو او بل شکل کښې زمونږ په بندوبستي او قبایلي سیمو کښې د انګرېزانو په ضد روان وو. د انجمن اصلاح الافاغنه په هندوستان کښې د ګاندهي جي د کانګرس سره په دغه ترځ کښې نزدیکت راتلو او د نورو تشدد امېزو مبارزو نه یې طریقه کار بدل وو. د انجمن صدر باچاخان او سېکتر یې احمدشاه وو او نور مشهورو غړیو کښې یې میا احمد شاه ، مولانا محمد اسرائیل ، میا معارف شاه ، هېډماسټر مقصود جان د بنو او نور. د انجمن په غټو مقاصدو کښې لاندیني مقاصد شامل وو:

۱: خپل منځي بدۍ یا دښمنۍ ختمول.

پښتون / افغان ټولنه کښې تربګني ، پره جمبه او زن زر زمکه د پاره جنګونه مخکښې ډېر عام وو.

۲: د ټولنیز یا مدني بد رسمونه رواجونه ختمول.

پښتون / افغان ټولنه کښې د زناناؤ په اړه ، د تعلیم په اړه او د نوي ساینسي ژوند په اړه ډېر غلط سوچونه او فکرونه وو. د روایتونو په نوم پکښې نور ډېر غلط شیان وو.

۳: په پښتنو کښې اتفاق راوستل.

چې بغېر د اتفاق او اتحاد نه قوم چرې هم نۀ جوړېږي. بل د ملي مبارزې د پاره هم اتفاق او اتحاد ډېر ضروري وي.

۴: د فضول خرچۍ نه خلق منع کول.

د دې په ځاے کفایت شعارۍ ته مایل کول ـــ لکه په قرض پیسې اخستل خو د اختر قرباني خامخا کول. په ودونو کښې بې ځایه خرچې کول. په مړي پسې د قرضو په پیسو خېراتونه کول. دا هر څه د قام مادي صورتحال نور هم خرابوي.

۵: د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ او ودې د پاره هلې ځلې کول.

د ژبې او ادب نه بغېر قام چرې هم ترقي نۀ شي کولے. بل د ژبې په اړه دا خبره هم د هغوي په فکر کښې وه چې دا تش ژبه نۀ ده ، بلکې کلتور دے او Code of conduct دے.

۶: او اسلام سره د پښتنو اصلي مینه پیدا کول.

د اسلام په اړه پښتون / افغان ټولنه د شروع راسې د جذباتیت ښکار پاتې شوې ده. پښتنو / افغانانو د اسلام سره تش روایتي مینه کړې ده. نو دا هم ضرورت محسوسېدو چې پښتنو / افغانانو کښې د اسلام د پاره د زړه مینه پیدا کړې شي.

دې نه پرته هم انجمن په ډېرو مثبتو سرګرمو کښې بوخت وو او د پښتنو د خېر او

ښېګړې د پــــاره یې شپـــه او ورځ کـــار تـــه دوام ورکړے وو او د عـلـم او تعلیم په مد کښې کار ته یې زیاته توجه ورکړه. د1921 ء جوړې شوې ازاد اسلامیه مدرسو (سـکـولـونو) ته یې یو ډېر منظم شـکـل ورکړو. بـاچـاخـان په خپل دغه اولني ګام کښې اولـس ذهـنـي انقلاب او مبارزې ته تیارول غوښتل.

د هـند برطانوي حکومت د باچاخان په طریقه پوهه شـو او د ځـان د پاره یې لویه خطره وګڼله او د دوي دغـه کار ورباندې ښهٔ رانغلو. نو باچاخان یې درې کـاله قید وساتلو او د انجمن د لارې نه یې یو ډډې ته کړو.

خـو د درې کـالـو د قید نه پس باچاخان یو بل ګام واخستو او په1928 ء کښې یې د پښتون مـجله/رسـالـه شـروع کړه. دغه رساله کښې به د پښتـنـي ټـولـنې پـــه سیـاسي ، ادبي ، تعلیمي ، مـذهـبي او اقتـصادي اړخ مضمونونه شامل وو. د هندوستان ، افغانستان او نورې نړۍ واقعات او د تـازه صورتحال په اړه خبرونه به پکښې هم شامل وو. بـاچـاخـان د پښتـون پـه وسیـله دوه مقاصد ترلاسه کړل:

د پښتنو/افـغانانو دریځ مخې ته راوړل او د هغوي غږ اوچتول.

د ډېـورنډ کـرښې دواړو خـواؤ تـــه میشتو د پښتو لیکوالو ته یو پلېټ فارم ورکول .

دې مجلې/رسـالې سره به د پښتو او پښتنو دواړو خـدمت تر سره کېدو. دغه مجله /رساله کښې یې د پښتنې ښځینه لیکوالانې لیکونه هم شاملېدل. دلتـــه یـوه خبـره ډېـره ضـروري ده چې پښتـون مـجلـه/رسـالــه کښې د ښځـو حوصلـه افزایې دا بـدلـون راوستـو چې پښتـنـې ټولنه کښې ښځینه سیـاسي مبارزه کونکې مخې ته راغلې ، سیاسي او سـمـاجـي لیـکـونه به یې کول ، سیاسي جلسو کښې بـــه شـرکـت کـولـو او پښتـنـې جیـنـکـیـو سکولونو ته تګ شروع کړو.

بـاچـاخـان د مـلـي مبـارزې په یو بل پړاؤ کښې ستمبر1929 ء کښې افـغان جرګه/د سرحد (پښتـونخوا) د زلمو جرګه ( Afghan youth league ) جـوړه کړه. د دغـــه جـرګې یـا لیګ د جوړولو خیال شاید چې میا اکبرشاه د سویټ روس نـه راوړے وي ځـکـه چې هـغوي هلته تللي وو او هـلتـه د ځـوانان ترکیان ، ځوانان خیوان ، ځوانا ن بـخاریان،ځوانان افغان او نور داسې تنظیمونه یې لیـدلـي کتلي وو. د دغه تنظیم مشر/صدر عبدالا اکبـرخـان اکبـر د عمرزو او سېکټر یې اکبر شاه د بـدرښـو وو. دا تـنـظیـم ډېر مترقي تنظیم وو. هر زلـمے یې د ذات ، عـقـیـدې و مذهب نـه بالا د دې تـنـظیم غړے جوړېدے شو. البته د لیکلو لوستلو (تـعلیم یافته) ځوانانو په لوري یې پام لرنه زیاته وه. د دغـه جـرګې ټوله کاروایي به په پښتو کښې لیـکـل کېـده ــ پـه لوړو مقاصدو کښې یې د هند ازادي ، هـنـدو مسـلـم اتـحاد ، د پښتنو اصلاح او سیاسي بېداري شامل وو.

د باچاخان یوه بله اهمه کارنامه دا ده چې د

زمیداری، نه پرته یې د پښتون اولس نور کاروبار یا نورو پېشو ته هم مخ ور وګرځولو. دکانداري ، تجارت او کسب پله یې د خلقو رجحان واړولو. د اولس د بېدارۍ د پاره یې د دغه پلېټ فارم نه په مېلو ، حجرو او سکولونو کښې ستېج ډرامې ، مشاعرې او سټډي سرکلې شروع کړې او په دغه طریقه یې پښتانه تعلیم یافته (Educate) کول.

د ملي مبارزې په دغه زغل کښې د باچاخان یو بل ګام دسمبر 1929 ء کښې خدایي خدمتګار تحریک جوړول دي. باچاخان به خپلو تقریرونو کښې د خدایي خدمتګارۍ په ترڅ کښې زیاتره دا وئیل چې قامي اتحاد ، هندو مسلم ورورولي ، د انسانیت خذمت او د عدم تشدد په ذریعه د ملک ازادي ترلاسه کول به زمونږ اهداف وي. باچاخان د صوبې ټول اوسېدونکي پښتانه/افغانان ګڼل ، نۀ یې د مذهب تمیز کولو او نۀ د فرقې. هندو،مسلمان،عیسایي، سکهـ یا شیعه ، سني او نورو ته به یې تش د پښتون په نظر کتل. دارنګې یې میاګان،ملایان،اخونان، سیدان او نور هم د پښتون قام برخه ګڼل. جولاګان،ګوجران،نایان یې هم دپښتو ویونکي په دلیل پښتانۀ ګڼل. د قبیلو ذکر لکه یوسفزي، مومند،خټک،اپریدي،وزیر،مروت او نورو ذکر کول یا په قبیلو فخر کول به ورباندې هم ډېر بد لګېدل.

خدایي خدمتګار تحریک د پښتو اولنی سیاسي تنظیم وو چې د کلي،تپې،تحصیل، ضلعې او صوبې پورې په مکمل ډول منظم شکل یې لرلو. د هرې کچې د تنظیم یا جرګې به خپل صدر،نایب صدر،مشر سېکتر،کشر سېکتر، مالیاتو سېکتر او نور عهدېداران وو. د دغه تنظیم مرکزي دفتر د مرکز عالیه سردریاب په نوم او مقام وو. باقاعده یې د رضاکارو تنظیم هم وۀ او مختلفې عهدې پکښې وې چې تر کرنل او جرنېل پورې پکښې شاملې وې. د رضاکارو په دغه تنظیم کښې به غټې عهدې اکثر د لاندې طبقې کسانو ته ورکول کېدې. دغه رضاکارو به خپله سره وردي اغوسته او فوځي پرېډ به یې کولو. خو دا خبره د یادولو وړ ده چې دا فوځي پرېډونه به یې د ټوپک او ډنډې نه بغېر کول. رضاکارو به خپلو پرېډونو کښې دا ترانه وئیله:

مونږ خدایي فوځیان یو
د مرګ یا دولت نه بې پروا
مونږ د خپل رهبر سره په وړاندې ځو
مرګ نه نۀ وېرېږو
مونږ د خپل قوم سره مینه کوو
د هغوی خدمتګاران یو مونږ
د خپل نصب العېن د حاصلولو د پاره چمتو یو مونږ
ازادي زمونږ مقصد دے
چې ورته خپل ژوند قربانوو

دا ټول د یو کس او د هغه د ملګریو د قربانۍ نتیجه وه چې ټکرې ټکرې پښتنو ته یې یو مرکز ورکړو ، د قامي شناخت احساس یې ورکړو او د ازادۍ تصور سره یې اشنا کړل. په سماجي، سیاسي،کلتوري، اقتصادي میدان کښې وروستو پاتې او یو غېر منظم قام ته یې د یو منظم قام شکل ورکړو.